## رباعی (۱۸)

چــه دُنیــاتــه تشریف راوړوپاك سردار
تیــاره لاړلـــه دکــفــرشــونهــار
په هرځائے دَخوشحالئ وږمے خورے شوے
چـــه پیــداشـــو مـــحـــمـدؐ نبــی روئیـدار

پـاك الله تـمـام کړوحُسـن پـه مـحبوبؐ
تـجـلـیٰ ئـے مـخ کـولـه دَ انـوار
پـه دُنیاکښے پـه هرځائے رڼا رڼاشوه
نـورانـی رخسـار سـرګند چه کړوتاجدار

بُتـان پـرمـخـے کـعبـه کښے شونسکور
چــه پیـداشـوپـه کوم وخت خیـرالابـرار
نـو دَسیـفی لـطیف الله ثـه خطـرنشتـه

چه شفیع لری محشر کښې جلوه دار

✿✿✿✿✿

## نعت شریف(۹۵) ربیع الاول شریف

دَربیـع الاول میاشت کښې،کُل پیدا شوپه مکه کښې
خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښې
دربیـع الاول میـاشت کښې

خوشحالئ شوے په هرلورپاك حضورؐ راغے دُنیاته
دَکسرئ مـانړی ښکـاره شوے ډیردلرینه هرچاته
رحـمتـونـه راخـواره شو، هره لارهره کوڅه کښې
خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښې
دربیـع الاول میـاشت کښې

عـزازیـل دَ ډیره غـمـه نسکورپریوتوپه زمکه
غلبـه دغم شوه زیاتـه پـه شیطان لعین بے شکه



خوشحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښې

دانـواروبـاران راغـے ، پـه تـمـامـه عـلاقـه کېنبـے
خـوشـحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښے
دربیـع الاول میاشت کښے

داسـے گُـل راغـے دُنیاتـه مـلائکـئ ئـے خـادمـانـے
هم خـدمـت تـه ئـے ولاړے جنتـی ښکلـے بیبیانـے
دَ الله دے نـازولـے نـورلـری ښـکـلـے چهـره کښـے
خـوشـحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښے
دربیـع الاول میـاشـت کښـے

حـضـورؐ دومـره حسـنـدارووشو هـریـوترینـه فیضیـابـه
چـه لیـدلـو چـارُخسـاربـه ئـے ځـلنده وولـه آفتابـه
والله ډیرورتـه حیـران وو، نـمرسپـوږمـئ په تماشه کښے
خـوشـحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښے
دربیـع الاول میاشت کښے

رنځـوران بـه جـوړیـدلـه مـحبـوبؐ پـه یـودیـدار
چـه پـرده بـه ئـے ورتـه لرکړه دَمحبوبؐ دسپین رخسار
عـجیبـه لبـان بـه سره وولـکـه ګُل وی بـاغیـچـه کښـے
خـوشـحالئ شوے هرطرف ته، بُتان پریوتل کعبه کښے
دربیـع الاول میـاشـت کښـے

دَسیـفـی لـطیف الله دَ زړګـی مـرهـم جـانـان دے
دمـورپـلاراو دَدُنیـانـه والله هـرچـانـه ډیرګران دے
ځـه عـاشق پرے دمودویم مـحبت لرم سینـه کښـے